# د پښتو نثر په تاریخ مرصع کي

د پښتو د نثر په تاریخ کي لسم قرن له دې جهته مهم ګڼل کیږي،چي د پیر روښان په لاس د فنيِ نثر تیږه ایښوولي سوېده.

ترهغه ځایه چې موږ ته ښکاره ده، تر بایزیدروښان دمخه دپښتـو نثـر ساده او روان او له فني تکلفاتو څخه تش وو، چې نمونـه ئـې دسـلیمان ماکو په تذکره الاولیاء کښي سته، او دا هغه نثر دی چـي د ۶۱۲ هـ پـه شاوخوا کښي کښل سویدي.

دپښتو په ادبي تحول کښي سیاسي وقایع ډېر قوي اثر لري، پخواني فاتحان خوپه پښتونخوا کښي نه پاتېدل، هوي به لـه دې غرنـی مځکـي څخه دهند خواته تېرېدل، او ډیر فرهنګي او اجتماعي اثرونه به ئې نـه پرېښوول.

چنګیز او تمیور خو د پښتونخوا له سیمو څخه په بېړه تیر سول. مګر تر ۹۰۰ هـ را وروسته چي بابر له فرغانې څخه افغانستان ته راتیر سو، دی دلې ډېر پاته سو، او په کلو کلو دلته دبادشاه په ډول وُ، او بیا چـي دی

هند ته ولاړ، هم د افغانستان سيمي دوه قرنه دده او دده د اولاد تر تسلط لاندي پاته سوې او پر غربي خواوو هم دصفوي سلطنت له سياسي تسلطه ادبي اثرونه هم دلته راورسېدل.

شرقي خواته دبابر دکورنۍ او غربي لورته دصفويانو دزماني ادبي اثرونه حتماً پر پښتونخوا هم لوېدل، او ځکه چي په دغو زمانو کښي دهند او ايران په دربارو ا وعلمي حلقو کښي فني نثر ليکل يو کمال ګڼل کېدی، کله چي پير روښان دپښتو ليکلو لپاره په خيرالبيان کي قلم وچلاوه دلته ده دپښتو نثر ليکلو يوه نوې شيوه او لاره غوره کړه، چي هغه دپښتو د قديم ليک پر ډول نه وه، بلکي ده د عربي او فارسي د فني نثر په تقليد خپل خيرالبيان په مسجع ډول وليکه.

کله چي خوشحال خان يو قرن بعد وغوښتل چي په پښتو نثر وليکي، ده دروښان او اخوند درويزه او ددغه ادبي مکتب تقليد نه وکئ، بلکي دخپل ذوق او خدا داد استعداده ئې کار واخيست، او فني نثر ئې بيرته عادي نثر ته راوګرځاوه او دا دخوشحال خان يو مهم ادبي ګټور اقدام ؤ.

دخوشحال په کورنۍ کي دنثر ليکلو دعادي او ساده طرز او رواج دوام وکئ، ګوهر خان قلب السير او افضل خان تاريخ مرصع په داسي نثر وکښل، چي دپښتو د آينده نثر ليکلو لپاره ډير ګټور ؤ.

البته دوي هم ځيني نواقص او خامۍ درلودې، چي وروسته ورو ورو سمي سوې او مونږ ګورو چي دمحمد هوتک پټه خزانه دنثر يوه غوره نمونه ده، او دا ښکاره کوي چي دخيرالبيان دوه قرنه وروسته دپښتو نثر ډير اصلاح سوي ؤ. د محمد هوتک معاصر نثر په کوزه پښتونخوا کي دافضل خان خټک تاريخ مرصع دی، او هم ددغه افضل خان په غوښتنه دده اکا ګوهر خان قلب السير کښلی دی، او پښتو

کلیله ودمنه هم پخپله افضل خان ترجمه کړېده. دا درې کتابونه چې په یوه کورنۍ کښې په یوه عصر کښې کښلې سویدي، او دختکو دنثر نګارۍ نمایندګي پسله خوشحال خانه کوي.

داسې ښکاري چې په پښتو نثر کې یو اصلاحي حرکت په کندهار کې تر پیرروښان وروسته ژر شروع سوي وُ، او کله چې دهوتکو دربار ته خبره راورسېده، نو دژبې نثر داسې شکل پیدا کړي وُ چې دپیر روښان او درویزه له مسجع سازۍ څخه سادګۍ ته را رسېدلی وُ، او لیکوالو به غوښته چې دوینا او لیک تر منځ توپیر لږ سي.

په دې وختو کې دارغنداو اوهلمند اوفراه او هریرود پر پراخو سیمو باندې دصفوي او هندي مغولو د سلطنتونو تر منځ د اودالیانو ( درانو) حکمراني وه، دوی خپله داخلي آزادي ساتله، او مثمر حرکت ددې لپاره موجود وُ چې ګوندي پښتانه د پردو له سیاسي او نظامي او فرهنګي اثرونو څخه آزاد پاته سي.

دا حرکت په شمالي پښتنو کې هم لیدل کېدئ، او دپیرروښان تر کورنۍ وروسته اوس قیادت ایمل خان او خوشحال خان ته رسېدلی وُ.

سیاسي تحولات هر کله پر ادب او ژبو باندې درانه اثرونه لري، په کندهار کې خود ابدالیانو او بیادهوتکو دآزادۍ غوښتني غورځنګونو دوام وکي، او په لره پښتونخوا کې هم د مومندو او ختکو او یوسفزو حرکتونه د ډهلي د مغولو پر خلاف جاري وه.

دغو اوضاعو دپښتنو پر ادب اوفکر او د پښتو پر نثر باندې داسې اثر کاوه، چې له تقلیده ئې خپل آزاد ډول ته راوګرځاوه، اودنورو ژبو دتقلید له کړیو څخه ئې راویوست. مګر دغه اثر په کندهار کې دمحمد هوتک پر نثر ډېر ښکاري او نسبتاً په ختګو کې لږ دي یعني : د محمد هوتک نثر قوي او ساده او خوږ دی، او د فارسي له تقلیده

ځخه نسبتاً و تاریخ مرصع ته آزاد دی. اما د تـاریخ مرصـع نثـر لـږ لـږ هندي رنګ لري، اودهندي مغولو دزمانې دفارسي اثر پکښـي ښکـاري. لکه اولسات _ صوبدار _ امر ګانان ...

دتاریخ مرصع ژبه _ جمله سازي _ او دکلام سیاق هم تر پټي خزانې دفارسي ژبـي اغیـزيٰ ډیـري لـري. خـو بیـاهم یـو قـوي او سـاده نثـر ګڼلـه سي.

دتاریخ مرصع خطي نسخې په پیښور او لندن کي سته، او تراوسه ئـې کومه خطي نسخه په افغانستان کي نه ده لیدل سوې، یوه نسخه ئـې پـه پیښور کي لس کاله دمخه له ښاغلي دوست محمد کامل سـره وه، دوي غوښتل چي دغه کتاب تصحیح او تحشیه کړي.

دادبیاتواوبشـري علومـو پـوهنځی تـه څـو کالـه دمخـه یـو څـو مایکروفلمونه له لندنه رارسېدلي دي، چي په هغوکي یو دتاریخ مرصـع مایکروفلم دی.

دا نسخه دلندن دپوهنتون په کتابخانه کـي ده، او پـه خـورا ښکلـي نستعلیق د محمد حسن پیښوري په خط په ۱۲۸۹ ه لیکل سوې ده، چي ۱۲۰۴ مخه لري او یو ښه غونډ لوی کتاب دی.

له دې څخه ځیني اقتباسـونه د راورټـي پـه ګلشـن روه ۱۸۶۰ م او د پادري هیوز په کلید افغاني ۱۸۷۵م کي چـاپ سـوي وه، مګـر دکتـاب اصلي او بشپړه نسخه نه وه. خو اوس زه له دغه مایکرو فلمه څخه په دې مقاله کي استفاده کوم.

محمد حسن پیښوری ددې نسخې لیکونکی دنستعلیق ښه استاد دی، خط ئې ښکلي او دهندي نستعلیق ښه نمونه ده. مګـر دی فقـط خطـاط دی او په دې نسخه کي ئې ډیري غلطۍ کړیدي یا به داوه چـي دی پـه پښتو نه پوهیدئ، یا به ئې اصلي منقول عنها نسخه غلطـه وه. نـو ځکـه

که څوک وغواړي چې د تاريخ مرصع يـوه مکملـه اوبشـپړه ثقـه نسـخه ومومي، بايد يوازي پر دغي نسخې باندي اکتفاء ونـه کـړي، او ديـوې بلي نسخې سره ئې حتماً مقابلـه وکـړي، چـې نـواقص او غلطـی ئـې ليري سي.

دلته زه د تاريخ مرصع هغه فصل له دغـه مايکروفلمـه را اخلـم چـې افضل خان دميرويس خان پر احوال ليکلي دی او داځکه اهميت لـري چې :

۱. په تاريخ کي ديوه معاصر پښتون مؤرخ ليک دی دحاجي ميرويس خان په باب. موږخو دپـردو مؤرخـانو ليکونـه دميـرويس خـان پـه احوال کي کتلي دي. اوس به وګورو چي يو پښتون معاصر مؤرخ څه وايي؟ او دا البته يو مهم سند دی.

۲. دافضل خان دنثر يو مکمله ناچـاپ سـوې نـوې نمونـه ده، چـې لومړی پلا د وږمې په مجله کي چاپيـږي، او دتـاريخ مرصـع دنثـر خصوصيات ښه څرګندوي.

۳. هغه څوک چي دپښتو نثر تحقيق کوي، ښله هغي ټوټې چي پـه ګلشن روه کي اته نوي کاله پخوا چاپ سويده، يو بله بشپړه نمونـه به هم ولري، چي د انتقادي څېړنولپاره ئې په درد وخوري.

زه دغه فصل دخپلـو توضـيحاتو سـره دوږمـې ګرانـو لوسـتونکو تـه وړاندي کوم ـ ۸۳۴ مخ :

# ذکر د ميرويس غلجي

په اصل اوتک (۱) دی. په اطـراف او جوانـب د قنـدهار، اولسـونه دپښتنو لکـه اودل (۲) او غلجـي (۳) او تـرين (۴) ميشـته دي. دايـران دبادشاه دلوريه يوه واجبي (۵) په دې اولوسانو مقـرر شـته، د قنـدهار صوبه دار ئې (۶) له دوي نه آخلي. قديم الايام اربابي په اولـس کـي د اودلو ده دخدکي سلطان (۷) په کاله کي. هر گاه چي ارباب داودلـو مستقل وُ، او اولس داودلو زورور و، دی نور اولسات دپښتنو بـه عمـل د مغل ته بواقعي ور کاوه.

هغه چاري چي حق تعالي وراني ته پيښـوي، حکاموتـه رهنمـوني دغير قانون، او غير دستور وښيي. دخـدکي سـلطان سـره د قنـدهار صوبه دار مخالف سو، اوسبب ئې دمخالفت دا وُ چي خداي تعالي ده ته هسې تعصب ددين ورکړی و، او زورور هم و، چي ايرانـي خـه بـه مخالف ووېل، دصوبه دار په دربار کي به ئې مړ کړ.

دا واقعه دايران وبادشاه ته ولاړه، حکم د ايران دبادشـاه پـه صـوبه دار راغئ، چي خدکي سلطان مړ کاني (۲). په فريب ئې وباله، چـي مهم دبلوڅ پيښ دی، مصلحت کړي بويه.

صوبه دار ورغي، بالښت ئې دده په خوله کښېښې، خفه کړه، مړ ئې کړ. بیا دده له اولاده تربور ئې و، هغه ئې سلطان کړ.

دده مشر زوي و، قلندر سلطان (۹) نومېده، هندوستان تـه لاړ، ډېر مدت ئې په نوکري دشهزاده داراشکوه تیره کړ. هغه صوبه دار د قندهار ومړ(۱۰) بل ئې په ځاي صوبه (دار) سو. (قلندر سلطان خبر سوچي) (۱۱) داد خدکي صوبه دار مړسو، او دده د لاسه بند وبست نه کیږي، را روان سو، وطن ته راغئ، ملازمت ئې دصوبه دار وکړ (۱۲). دا واقعه ئې و بادشاه ته د ایران وښه، چي سلطان راغئ، دده په باب څه حکم دئ؟ بادشاه په حضور وباله ډېره مهرباني ئې پر وکړه، فرمان ئې دسلطانی او خلعتونه ئې ورکړ، رخصت ئې کړ وطن ته راغئ، ډیر مدت ئې سلطاني دلته وکړه، ښه بندوبست ئې وکړ. دې صوبدار هم بیا په یو سبب دده سره کاوش واخیست. یو تربور ئې وه دده غرض گوي. هغه ئې وپوښتېده، چي دده څه فکر بويه؟ هغه ورتـه ووې : چي تـه ئې راوبوله ورته وایه چي د ما یو واده په دا پښتنوكي بويه. دده پيغله لورده، هغه ورځني وغواړه. که دا ئې قبول کړه بهتر، او کنه غذر به دي ورته جوړ سي.

قلندر سلطان ئې وباله، دا حقیقت ئې ورته ووې. ده قبول نکړه، نور ئې په قید کړي و. (یوه) شپه ئې له قیده وباله، ورته ئې ووې : چي دا امر چي ما ویلی دی، قبلوې که نه؟ ده ورته ووې : چي دا کار شووني (۱۳) نه دی. نور هر چه ستا رضا. صوبدار شراب چښلي ناست و توره ورځخه پرته وه، پخپله ئې په توره وواهه، مړ ئې کړ.

دا واقعه د ایران بادشاه ته لاړه، صوبه دار ئې په حضور طلب کړ، چي حضور ته ورغئ بادشاه ورته ووې : چي سلطان قلندر دي په څه مړ کړ؟ ځواب ئې له هیبته پاتو سو. ادم خواره سپي د بادشاه په سر کار

کي و، هغو سپیو ئې مات کړ.  د قلندر سلطان بل ورور ؤ، هغه بادشاه حضورته وباله، د قلندرسلطان مراتب ئې هغه ته ورکړه، کورته ئې را رخصت کړ، سلطاني ئې ورکړه، دده کشر ورور و، حیات سلطان نومېده، د ورور سره چي به ښکار ته روان سو، ورور به نه پرېښ. چي دتا وقت دعلم دکتاب دی، ښکار مه کوه! په ما پسي مه راځه!

یوه ورځ ئې حکم مات کړ، په ورور پسي په ښکار روان سو، چي وئې لیده ورته وقهرېده، په ستنه ئې را وجاریوست (۱۴). حیات سلطان دخو اوباشو سره مصلحت وکړ، چي ما دی خپل عیش ته نه پرېږدي، راځئ چي مړ ئې کړو. هغه اوباش او سلطان حیات ورپسي سواره سول. ده شاهین په کلنګ (۱۵) پسي اچولی و، کلنګ (ئې) نیولي و.

دشاهین دسیره وني (۱۶) دپاره کوز سوي و، سپاه ورځخه په ستنه ولاړه و. حیات سلطان ورغئ ده ورته ووې: چي څه لره راغلې؟ آس ئې پر وزغلاوه، سور ئې کړ(۱۷)، هغو نورو اوباشو واهه مړ ئې کړ.

دا واقعه بادشاه ته لاړه، بادشاه حیات سلطان په حضور وباله عرض وسو: چي حیات سلطان چي قاتل د ورور دی راغئ. حکم ئې د قید وسو، قید ئې کړ. شپږ کاله په قید کي پروت و. هسي سبب خدای پېښ کړ، چي قافله د ایران، له ډېره مال متاع سره هندوستان ته روانه سوه. کاکړ لوي اولس دی، چي په حد ددوي قافله ورغله، تاخت وتاراج ئې کړه (۱۸).

واقعه بادشاه ته ورغله. بادشاه امر وکړ، چي څوک سته هم ددوي علاج وکا؟ عرض وسو چي علاج ددوي قدیم الایام په سلطان د اودل دئ، سلطان مړ دی او ورور ئې په قید دئ. حکم ئې وکړ چي حاضر

ئې کې. حیات سلطان تـه بادشـاه ووې : چـې ددې واقعـې تـدارک تلافي څرنګ کړې بويه؟ حيات سـلطان عـرض وکـړ چـې پـه اقبـال دبادشاه اسان کار دی.

سلطاني ئې ورکړه، په مهم ئې ددوي رخصت کـړه. هغـه قـاتلان چې دده سره دده ورور ئې مړ کړي وه، هغه ئې مړه کړه، چې تاسي په دې مصلحت دما سره ولي اتفاق کاوه؟ لښکر ئې پسي وکړ، مهم ئې دکاکړو (ختم کړ) ډير کاکړ ئې مړه، تاخـت او تـاراج کـړه مـال او متاع ئې د سوداګرو ډير وصول کړه.

سلطاني ئې خپله کوله، پسله هغه ئـې د قنـدهار دصـوبه دار سـره کاوش (۱۹) وسو، درې امرګانان (۲۰) صوبدار دحیات سلطان پـه مهـم حکم کړه، جنګ ئې سره وکړ، مغل ئې مات کړ. درې واړه امرګانان ئې مړه کړه، نورخانه کوچ روان سو درې زره کوره ورسره ملتان تـه لاړسو(۲۱). له ملتانه اورنګ زيب بادشاه ته لاړ سو عرض ئې وکړ، چې که قندهار په کار وي، په اقبال بادشاه اخيستل ئې اسانه دي.

بادشاه پانصدي منصب ورکـړ، چـې تـه ملتـان تـه ورځـه دا مهـم کړوني (۲۲) دی. اورنګ زيب په نورو مهمونو پاتو سو. دی تراوسه پـه ملتان کي ناست دی، خپل منصب خوري.

د قندهار صوبدار، میرویس چې په اصـل غلجـی پـه غلجـي کـي اوتک دی، په سرداري هسک کړ(۲۳). د ايران بادشاه ته ئـې سـپارش دده وکيښ، ورئې ستاوه. بادشاه فرمان د سرداری ورکړ، را رخصـت ئې کړ. څو موده ئې سرداري وکړه بيا د قندهار صوبدار ځنـي آزرده سو، شکوه ئې بادشاه ته وکښه بادشاه په حضور وباله څومـوده بادشـاه څخه وۀ (۲۴)، تقاضا ئې درخصت درله (۲۵) اما رخصت ئې نه ورکاوه دبيت الله رخصت ئې ځني وغوښت، رخصت ئـې کـړ. بيـت الله تـه

لاړ، دهغه نه چي را جارووت (۲۶)، په ساهان راغی، اما بادشاه ئې ونه ليده، هم بې خبره روان سو، غلجيو ته راغی سرداري ئې خپله کړه اما له مغل (۲۷) نه په وسواس.

په قندهار کي شاه نواز خان گرجی (۲۸) صوبدار ؤ، دوه فريق متعينه په قندهار کي ؤ: يو گرجی بل قزلباش. نقل کا: چي شاه نواز او هغه فريق د گرجيانو چي ورسره وو، ډير ظلم او تعدی به ئې په قزلباش هم په پښتنو کړه. شاه نواز خان ته مهم دبلوچ ورپيښ سو فوج ئې خپل په مهم دبلوچ واستاوه، خودئې له قندهاره مدت له ميرويس د غلجيو وغوښت. ميرويس دغلجيو سره مرکه وکړه، بلکه د قندهار هم په مرکه ورسره. چي وقت دپريښوو نه دی. لښکر دغلجي د ميرويس سره قندهار ته راغئ، نور ميرويس شاهنواز خان ته ځواب واستاوه، چي اوس ته هم راووزه.

لښکر د شاهنواز خان اکثر په مهم دبلوچ لاړ وه، دلږه جمعيت سره ورته راوه ووت. شهنوازخان ئې مړ کړ، هله ئې په قندهار وکړه (۲۹) څه لږ ډير غلجي په هونبره هله کی پريووت (۳۰) نور ئې قندهار واخيست. درې زره گرجي ئې په قندهار کي مړه کړه، او هر چي ترک او قزلباش په قندهار کي وو، هغو ته ئې امان ورکړ. هغه لښکر چي شهنواز خان په مهم دبلوچ استولي وه، چي له دې واقعې خبر سو را وجاروو ت اما زور ئې پر نه ليده، دمشهد او هرات ولورته لاړ.

هرچي په قندهار کي مال او خزانه چي وه، واړه دميرويس په لاس راغله. دشهنواز خان دکړومي (۳۱) سره ئې سړي کړه رخصت ئې کړه. هرچي د قندهار قزلباش وو، امان ئې ورکړ، هغه ئې دده دکوړمو سره رخصت کړه. اورنگزيب په هندوستان کي چي دا واقعه کيده وفات و، بهادرشاه په تخت ناست ؤ، وراره ئې دسوغات

سره بهادر شاه ته راستوه، په سرهند ئې ملازمت وکړ، د اسم دپاره ئې سه هزاري منصب دده وراره ته ورکړ، او پنجهزاري میرویس ته ئې حکم وکړ. چي قندهار دي حواله هم په ده وي، دماسکه او خطبه دي پکښي ولولي (۳۲). دوه درې ځله دايران عظيم فوځونه چي ديرش ديرش، څلويښت څلويښت زره سواره وو، دلويو امرگانانو سره لکه خسرو خان وغيره، پر باندي راغله شکست ئې ورکړ. ډېر عالم ئې قتل کړ، ډير غنائم ئې په لاس راغله تر دا تاريخ چي سنه زر سل شل څلور دي ( ۳۳) په قندهار ناست خپل حکومت او سرداري کا، توفيق ئې رفيق سه ! ښه پښتون دی. ( ۳۴) ( ص ۸۴۰) (۳۵)

# لمن ليکونه

۱. خلک ئې اوتک وايي، مگر ليکوال ئې هوتک ليکي افضل خان دخلکو وينا او اداء ظبطه کړېده.

۲. ټوله پښتانه اودل وايي، مگر ملايانو اوليکوالو له دې څخه ابدال - ابدالي جوړ کړيدی. احمدشاه بابا وايي :

ټوله يو دي که غلجي دي که اودلي
ښه هغه چي ئې ښيښه دزړه صفا ده

( ديوان احمدشاه بابا)

په کندهار کي متل دی : " دخداي داسي رضا ده، چي اودلي ودوي ترين ئې ورا ده."

۳. دا قديمه املاء ده، اوس مرزايانو غلزائي ځيني جوړ کړيدی.

۴. ترين دپښين او لورلايي په سيمو کي دی، چي پخوا د کندهار سيمي وې.

۵. واجبي ماليات :

۶. مراد دهغه وخت والي دی.

۷. سلطان په ۱۰-۱۱ قرن کي يو لقب ؤ، چي محلي حکمدار تـه ورکول کېدئ. خدکي يا خودکي د ۱۰۵۰ په شاو خواکي د اودلو مشر اوکندهار حکمدار ؤ. دی دخضر خان زوي او دملک سدو لمسی دی.

۸. کاڼي : دختکو په اصطلاح دکړي، کاندي پر ځاي.

۹. دا نوم نورو مؤرخانو لشکر خان کنبلی دی چي پـه ملتـان کـي حکمران ؤ.
۱۰. ومړ : مړسو.
۱۱. په قوسينو کي کلمات په اصل کـي نسـته، د مطلـب د تکميـل دپاره ما اضافه کړه.
۱۲. دا صوبداران او حاکمان له صفوي درباره مقرريدل.
۱۳. شووني : شدني او ممکن.
۱۴. يعني بيرته ئې راوشاړه.
۱۵. شاهين او کلنګ دواړه دمرغانو نومونه دي.
۱۶. په اصل کي دغسي دی، زما په خيال دا کلمـه ځيزونـه ځارونـه ده. يعني ځار کول.
۱۷. سور کول : زخمي کول.
۱۸. دا قافلې دپښين او ږوب له لاري ملتان ته تلې.
۱۹. کاوش : دلته د اختلاف اوتصادم معنی لري.
۲۰. امرګانان : اميران او منصبداران.
۲۱. لاړسو : ولاړ.
۲۲. کړوني : يعني عملي کيدونکی دی.
۲۳. هسک کول : نصب کول. لوړول.
۲۴. يعني دبادشاه سره وه.
۲۵. درله : درلوده.
۲۶. جاروو‌ت : بيرته راغی راستون سو.
۲۷. دلته مراد صفويان دي.
۲۸. مراد ګرګين خان ګرجی دی، چي ارمني نصراني ؤ.
۲۹. هله کول : حمله کول.

۳۰. پریووت : یعني مړه سول.
۳۱. کوړمه : آل وعیال.
۳۲. دهوتکو په زمانه کي قندهار آزاد وُ، دچا سکه دلته نـه ده خپـره سوې. دمیرویس خان کامیاب ملي غورځنګ په ۱۱۱۹ هـ قنـدهار د صفویانو څخه آزاد کئ. دمیرویس حکومت تر ۱۱۲۷ ه پوره اته کاله یوه ملي او د جرګې اداره وه، سکه او خطبه ئې دهندوستان دکوم پاچا په نامه نه درلوده.
۳۳. ۱۱۲۴ ه کال دتاریخ مرصـع ددې برخـي دلیکنـي کـال دی. خسروخان په ۱۱۲۳ ه کال د (۵۰) زرو لښکرو سره پر کندهار حمله کړې، او میرویس خان د (۱۶) زرو کندهاریانو پـه مرسـته هغـو تـه ماته ور کړه، او خسرو هم وواژه سو.
۳۴. دا د یوه معاصر حکمران او مؤرخ نظـر دی میـرویس خـان تـه. افضل خان چي په دغه وخت کي دختکو مشـر وُ، د کنـدهار ملـي مشر ته توفیق غـواړي، او دی ښـه پښتـون بـولي. دا د ښـه پښتـون تعریف دپښتنو په اصطلاح ډیر جامع دی. او هر څوک دا صفت نـه لري. افضل خان چي پخپله هم پښتون وُ، پوهیدئ چي ښه پښتـون څوک کېدایسي؟ او د میرویس خان لپاره ئې دغـه توصـیف غـوره وګاڼه. یعني : میرویس دټولو پښتني صفاتو خاوند دی.
۳۵. وږمه مجله، ۱۳۴۷ کال، د حمل او ثور ګڼه، ۱ ـ ۱۱ مخونه.